
# د ایریز والدین پورتال
# د ننوتلو لارښود

د فوټهیل لیسه (Foothill High School)
د ټوین (Twin Rivers Unified School District
رایورز یونیفایډ ښوونځي ولسوالۍ)

مهرباني وکړئ د ایریز والدین پورتال حساب جوړولو لپاره ګام په ګام لارښووني تعقیب کړئ. د ایریز والدین پورتال زموږ د مخکیني سیستم، د ښوونځي کړی ځای نیولی دی. کله چې مکمل شي، پدې حساب کې به د زده کونکي د درې میاشتني پرمختګ راپور، ژوندی حاضري، ټرانسکریپټونه، د ازموینو نمرو، د زده کونکي اکاډمیک پلان (د لیسي 4 کلن پلان/د کورس غوښتنې) لیدل او د اړیکي معلوماتو یا د ډیموګرافیک معلوماتو تازه کول یا تاییدول شوني وي.

دا مهم دي چې تاسي پوهه شئ تاسي اړ نه یي له سره د فوتهیل لیسي ته غوښتنه وکړئ، ستاسي زده کونکی وارادمخه داخل دی. علاوه لدې، که تاسي وارادمخه د توین رایورز USD کې د یوه بل زده کونکي لپاره د ایریز والدین پورتال حساب لرئ، نو تاسي اړ نه یي بل حساب جوړ کړئ. بیاهم، دا سیستم د ټولې ولسوالی لپاره دی نو تاسي کولی شئ د ښوونځي بیلابیل سایټونو کې څو زده کونکي د والدین یوه پورتال لاندې ولرئ. مهرباني وکړئ د حسابونو لنک کولو څرنګوالي په اړه معلوماتو لپاره 3مه پاڼه وګورئ.

## د نوي والدین پورتال حساب جوړول




**ګام 1**


ته ورشئ https://aeries.twinriversusd.org/parent یا خپل ګرځنده ټلیفون یا ځیرک وسیله کې د ایریز اپ ډاونلوډ کړئ.

د نوي **حساب جوړول** لنک باندې کلیک وکړئ. دا به والدین یا زده کونکی د نوم لیکنې پروسې ته ویسي. یادونه: په پورتال کې څو ژبې ملاتړ شوي دي. والدین کولی شي د حساب جوړلو کې د خپلې خوښې ژبه غوره کړي او د پروسې په اوږدو کې به ورته ژباړل شوی متن وړاندې کیږي.





**ګام 2**

د دې پروسې په جریان کې، به تاسې نه د حساب د ډول په اړه پوښتنه وشي یعني د والدین یا د زده کونکي. په والدین/سرپرست کلیک وکړئ.




**گام 3**

بیا به تاسي نه ستاسي د نوي حساب لپاره د کارولو په موخه د برېښنالیک پتې او د پاسورډ غوښتنه وشي.



Aeries Account Verification(parent@example.com)

To parent@example.com

Thank you for registering for an Aeries account. In order to ensure the account was requested by you, please click on the appropriate link below or copy and paste the URL into the Address bar of your browser.

If you can, please click on the following links to confirm or reject this account:

Confirm This Email Address


Reject This Email Address

**If you are unable to click the links above**, you need to copy and paste the following URL into your web browser's Address bar.
https://aeries.eagleusd.org/ConfirmEmail.aspx

You will then be prompted for the following information which you can copy and paste into the page:
Email Address: parent@example.com
Email Code: Y35QJSPEH7T8382J8PA8


**گام 4**

د دغه گام نه وروسته به دغه برېښنالیک پتې ته یو برېښنالیک ولیږل شي او د نوم لیکنې پروسه به تر هغه وخت پورې ودرېږي چې تاسي د برېښنالیک انبکس ته ورشئ او په لیږلي برېښنالیک کې د **دا برېښنالیک پته تایید کړئ** لنک باندي کلیک وکړئ.





**گام 5**

که تاسي نشئ کولی په برېښنالیک کې موجود لنک باندي کلیک وکړئ، نو تاسي کولی شي په لاسي ډول ځانگړي شوي URL ته ورشئ او په لاسي ډول حساب قبول یا رد کړئ. یادونه:
د "برېښنالیک کوډ" باندي باید د ضمیمه شوي تایید کوډ سره تیر نه وځئ. د برېښنالیک کوډ یوازي یو وار د فعالولو پروسي په لړ کي کارول کیږي.




**گام 6**


که تاسي بريښناليک کي د تاييد لنک کليک کړئ، لاندي پاڼه به ښکاره شي او تاسو کولی شئ د نوم ليکني پروسې ته دوام ورکړئ.




**گام 7**

بيا د **ننوتلو پاڼي ته ستون شئ** او مخکې د ځانګړي شوي بريښناليک پتي او پاسورډ سره ننوځئ. د نوم ليکني پروسه د والدين لخوا د هغه زده کونکي د آي.ډي لمبر، تليفون په ليکلو او تاييد سره دوام کوي د کوم لپاره چې تاسي غواړئ لاسرسی ولرئ. که چيرې دغه 3 مورد معلومات زموږ ډيتابيس کي د کوم زده کونکي سره سمون ولري، نو ادا حساب به د دغه زده کونکي سره وتړل شي.

**د والدين پورتال حساب ته د څو زده کونکو وراضافه کول**





**گام 1**

خپل د ايريز والدين پورتال حساب ته د https://aeries.twinriversusd.org/parent ته ورتګ له لارې ننوځئ يا خپل ګرځنده تليفون يا ځيرک وسيله کي د ايريز اپ داونلوډ کړئ.


**گام 2**

په پورتنی پټی کې د زده کونکي بدلولو بنه انتخاب کړئ. بیا خپل حساب کې د نوي زده کونکي اضافه کول انتخاب کړئ.





**گام 3**

د نوي زده کونکي لپاره چې تاسې لاسرسی غواړئ د هغه د آی.ډي لمبر، تلیفون، او تایید ولیکئ. که چیرې دغه 3 مورد معلومات زموږ ډیټابیس کې د کوم زده کونکي سره سمون ولري، نو دا حساب به د دغه زده کونکي سره وتړل شي.




**د والدین ارتباطات**

که تاسې ګرځنده تلیفون یا لاسي وسیله کاروئ، نو تاسې اړ یې د خپل ګوګل پلې یا اپ سټور څخه د **والدین سکویر** اپ داونلوډ کړئ. د ایریز والدین پورټال اپ به تاسې ته یوازې د دې اجازه درکوي چې د خپل زده کونکي د ښوونځي اړوند معلومات وګورئ. که تاسې غواړئ د کارمندانو او ښوونکو سره ارتباط ولرئ، نو د والدین سکویر اپ ته هم اړتیا ده. مهرباني وکړئ د ننوتلو همدا ورته معلومات وکاروئ کوم چې تاسې د ایریز والدین پورټال ته د ننوتلو لپاره کاروئ.




که د ایریز ویب سایټ کاروئ، دا بڼه پکې واردمخه موجود ده.

**مرسته**

که تاسې د تنظیم پروسې بشپړولو لپاره د زده کونکي معلوماتو (لکه د زده کونکي د آی.ډي لمبر، د تایید کوډ وغیره) ته اړتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ په Robyn.Brown@twinriversusd.org. رجسټرار روبین براون ته بریښنالیک ولیکئ ځان ډاډه کړئ چې بریښنالیک کې د خپل زده کونکي نوم او د زیږون نیټه ولیکئ.

که تاسې سیسټم ته ننوتلو کې کوم مشکلات لرئ، نو مهرباني وکړئ په TechSupport@twinriversusd.org د ټوین رایورز HelpDesk ته بریښنالیک ولیږئ.

که تاسې د خپل پاسورډ اړوند مرستې ته اړتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ د "پاسورډ هیر شوی" ځانګړنه وکاروئ.